SHARIAT
شریعت
په اوونی کي دوه ځله خپريږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال پنځه شپیتمه گڼه پرله پسي (۳۵۲) شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (۱۱)
د۱۳۷۸هـ ش کال د وږي دمیاشتي (۱۹) د ۲۰۰۰ میلادي کال د سپتمبر (۹)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

از اظهارات نطاق وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان :

از وزارت امور خارجه امریکا خواهانیم تا از تبلیغات سؤ علیه ا.ا.ا خود داري نماید

اظهارات نطاق وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در رابطه به گزارش و اتهامات وزارت امور خارجه ایالات متحده امریکا پیرامون سلب آزادي هاي مذهبي در قلمرو امارت اسلامي افغانستان
مؤرخ ۱٤۲۱/٦/۹
وزارت امور خارجه ایالات متحده امریکا اخیراً طي گزارشي امارت اسلامي افغانستان را از جمله کشور هاي قلمداد کرد که به تعبیر او شان در آن کشور ها سلب آزادي هاي مذهبي وجود داشته و وزارت امور خارجه ایالات متحده امریکا تشویش و نگراني هاي خویش را از این ناحیه ابراز داشته است.
وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در حالیکه این گزارش را یك اتهام محض تلقي نموده و با رد قاطع آن اضافه مي نماید که در قلمرو و حاکمیت امارت اسلامي تمام اتباع افغانستان بدون تبعیض و صرف نظر از مسایل قومي ، نژادي ، لساني و مذهبي با حقوق مساوي بسر میبرند و همه اتباع کشور با رضایت کامل از این پالیسي در حمایت قاطع

ص ٤

در ولایت سمنگان

۱۰۰٦۸ طالب العلم مصروف آموزش میباشند

در چهل و چهار باب مدارس عصري و بازده باب مدارس دیني ولایت سمنگان ۱۰۰٦۸ طالب العلم مصروف فراگیري آموزش میباشند.
این مطلب را محترم مولوي نصر الله منصور نیس معارف ولایت سمنگان به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر در شهر ایبك اظهار داشته افزود : در مدارس دیني ریاست معارف ولایت سمنگان بازده صدو ده تن طالب العلم طور نهاري و لیلیه در عرصه هاي آموزش علوم دیني مصروف اند .
به اساس توجه و مواظبت دلسوزانه مسولین وزارت معارف، هجده قلم کتب درسي به ارزش بازده ملیون و ششصدو ده هزار افغاني به

ص ٤

د اطلاعاتو او کلتور محترم کلتوری معین :

په افغانستان کی د تولو اقلیتونو حقوق خوندي دي

په امریکا کي مسلمانان نه شي کولاي په اخترونو کي د خپلو رخصتیو ورځي ولمانځي

شیعه خلک نه یوازي دا چي د مذهبي مراسمو د پر ځاي کولو او بیان آزادي لري بلکي په عملي توگه له اسلامي امارت نه د دفاع په سنگرونو کي قرار لري
محمد نواب "حیدري"

مونږ په کابل، جلال آباد، خوست، غزني او د هیواد په نورو سیمو کي په آرامه فضا کي خپل مذهبي مراسم تر سره کوو

اثر سنگه مجبور

کابل - باختر :
د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری معین محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک وړمه ورځ ږغرمی وروسته د شیعه خلکو او د هندوانو له دوو تنو استازو سره وکتل.
په دې کتنه کی لومړی د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم کلتوری معین په نړی او په تیره بیا په افغانستان کی د اقلیتونو د ژوندانه په باب د امریکا د متحده ایالاتو د دولت د کلنی رپوت له محتوا سره د تماس په نیولو د خبرو په ترځ کی چی د هغوی د ژوندانه له واقعیتونو سره بشپړ توپیر لری ددغه شان رپوت خپرول مردود وبلل او وی ویل په افغانستان

٤ مخ

د کابل ښار خطیبانو د خپلو موعظو په ترځ کی وویل :

په هیواد کی تول میشته قومونه او ملیتونه له اوسني واکمن نظام څخه ملاتړ او دفاع کوي

د کابل ښار د جامع جوماتونو او تکیه خانو خطیبانو او واعظانو پرون د جمعي د لمانځه له ادا کولو مخکی د خپلو دینی موعظو په ترځ کی په افغانستان کی د مذهبی آزادیو د نشتوالی په باب د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت رپوت بی بنسټه وباله او هغه یې د نړی د مسلمانانو ترمنځ د بې

٤ مخ

په کابل کی :

یوه ډله جوارگر ونیول شول

کابل - باختر :
یوه ډله جوارگر پرون د کابل په ښار کی ونیول شول .
د جوارگرو پنځه کسیزه ډله هغه وخت د کابل ولایت د امنیه قوماندانی د څلورمی امنیتی حوزی د موظفینو له خوا ونیول شوه چی د کارته پروان په سیمه کی د قمار په ناروا عمل بوخته وه .

به اثر تلاش موظفین امربالمعروف :

تعداد زیادي از معتادین هیروئین نجات یافتند

کابل - باختر :
طي ششماه اول سالجاري تعدادي زیادي از معتادین هیروئین و چرس از بند این عمل ناجایز نجات یافته و مصروف فعالیت اجتماعي گردیده اند.
به اثر سعي و تلاش موظفین وزارت امر بالمعروف و نهي عن المنکر در

ص ٤

په کابل کی :

دریو خیریه موسسو ته د کار اجازه ورکړل شوه

کابل - باختر :
دریو کورنیو او بهرنیو غیر حکومتي خیریه موسسو ته په هیواد کی د کار او فعالیت اجازه ورکړل شوه .

ص ٤

از طرف جمعیت عالي افغاني سره میاشت در شهر کابل :

براي ٥٨٨ فامیل مستحق مواد امدادي توزیع گردید

کابل - باختر :
براي پنجصد و هشتاد و هشت فامیل بي بضاعت و مستحق در مربوطات شهر کابل از طرف

ص ٤

حماس :

مبارزه مسلحانه علیه رژیم صهیونستي یگانه راه بدست آوردن بیت المقدس است

حماس یا جنبش مقاومت اسلامي فلسطین اعلام نمود که مبارزه مسلحانه علیه رژیم صهیونیستي یگانه راه بدست آوردن دو باره بیت المقدس میباشد.
محمود الزهار یکي از

ص ٤

شکست شر افگنان و اقامه نظام الهي یگانه آرزوي ماست

اهالي متدین شهر تالقان

تخار باختر :
هزاران تن از شهریان شهر تالقان مرکز ولایت تخار دیروز با تدویر اجتماع وسیع از دستاورد هاي نیك امارت اسلامي جانبداري نموه بر وحدت و یکپارچگي شان در برابرد شمنان این مرز و بوم

ص ٤

د چک ولسوالی د بریښنا فابریکه د ۳٦۰۰ کیلو واته بریښنا تولیدی ظرفیت لري

شریعت : د میدان وردک ولایت د چک ولسوالي د بریښنا بند او تولیدي دستگاه د افغانستان له ډیرو مهمو اقتصادي او تخنیکي عام المنفعه تاسیساتو څخه شمیرل کیږي دغه دستگاه په ۱۹۳۸ م کال دنړۍ د خورا مشهوری کمپنی «زمنس» له خوا چی د جرمنی په هیواد پوری اړه لری جوړه شوی او د استفادی وړ گرځیدلی ده .
دغه تکی د نومړوی

٤ مخ

در ولایت نیمروز :

رادیو صداي شریعت به نشرات خویش آغاز نمود

نیمروز - باختر :
رادیو صداي شریعت ولایت نیمروز اخیراً به نشرات خود در شهر غور غوري مرکز آن ولایت آغاز نمود.

ص ٤

از طرف حکومت ترکیه :

نظارت بر مساجد رو به افزایش است

نظارت دولت بر مساجد و فعالیت امامان جمعه در ترکیه افزایش یافت.
بگزارش منابع خبري بین المللي دولت ترکیه غرض جلوگیري از فعالیت گروه هاي اسلامي این نظارت را افزایش داده است.
آژانس خبري اناتولیه ترکیه گفت تفتیش خاص، امور دیانت بر فعالیت هاي مساجد، صنف هاي آموزش قرآن کریم و مباحثات دیني و تبلیغي ایمه جمعه را نظارت خواهد کرد.
شعبه این تفتیش در چوکات صدارت ترکیه کار مینماید.



د میدان - وردک ولایت د چک ولسوالي د بریښنا فابریکه کي دري توربینونه نصب او متناژ شوي دي   عکاسي یوسف

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

یو متحد او مستحکم افغانستان به هیچا ته خطرناک نه وی

د روسانو له وتلو او کمونیستی رژیم له نسکوریدا وروسته د ائتلافی ډلو له خوا د کابل اشغال بیا هم د روسی لاس وهنی او لمسونی د پلانونو په اثر تر سره شو څکه روسانو په افغانستان کی د څینو اقلیتونو د پارونی په واسطه غوښتل هیواد تجزیه او یا له سختی گډوډی سره مخامخ کړی چی بالاخره همداسی وشول او ددی کورنی جنگ په ترځ کی افغانانو ته درانده تاوانونه ورسیدل ، د

ص ۲

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

گډوډی او ملوک الطوائفی په هماغو ورځو کی روسان بی غمه و او دا اندیښنی بی نه کولی چی افغانستان به د روسیی جنوبی پولو ته څه گواښونه پیښ کړی خو کله چی د ائتلافی ډلو په خلاف د ملت غوسه راوپاریده او د طالبانو د اسلامی غورځنگ له خوا د هیواد د څمکنی بشپړتیا، ملی سالمیت د بیلا بیلو ډلو تصفیه او بی وسلی کول او په هیواد کی د یو سر چه اسلامی نظام د قائمولو ناره پورته او د افغان مجاهد ولس سره همدا لوز وشو، نو روسانو ته دا اندیښنه پیدا شوه چی اوس به نو د منځنی اسیا د هغو کمونیستو رژیمونو ساتنه څنگه وکړای شی چی له کلو کلو راهیسی بی د مریبتوب کړی ور په غاړه کړی وی.

د روسانو زړه واخیسته چی نور نو د افغانستان په یو موټی کیدو او د رښتینو مجاهدینو په برلاسی او اقتدار کی څه شک نه دی پاتی او له همدی امله یی ورځ په ورځ پوچ تبلیغات او پروپاگند زیاتیده چی ان د تیغ په تیغ پوځی برغل تر بریده وگواښیدل. د طالبانو اسلامی تحریک په هیواد کی د یو اسلامی امارت بنسټ کیښود او د خپلی ژمنی سره سم د هیواد د یو موټی کولو په هڅه لگیا دی. اوس د لوی خدای «ج» په مرسته د ټول هیواد نه کرښه را تاو شوی ده او یوازی یوه محدوده سیمه چی بیا هم د روسانو گرغیړن لاسونه تری رانښتلای شی پاتی ده خو اسلامی امارت به د وعدی سره سم ذمه وارو ی چی دغه سوړی بندی او پردی لاسونه غوڅ کړی په هر صورت اوس پوښتنه دا ده چی آیا رښتیا هم یو متحد افغانستان به د گاونډیو هیوادونو لپاره څه خطر پیښ کړی ؟

که څه هم اسلامی امارت ددی پوښتنی په ځواب کی څو څو واره څرگنده کړی چی مونږ له ټولو گاونډیانو سره د ښو اړیکو غوښتونکی یو او د هیچا په کورنیو معاملو کی د لاس وهنی اراده نه لرو او دا ځکه چی مونږ له هر څه زیات ځان جوړونی او د خپلو کورنیو ستونزو حل ته اړتیا لرو، خو څرنگه چی په دی هکله اوس بیا تبلیغاتو زور اخیستی نو یو ځل بیا اعلانوو چی مونږ له هر چا سره دوستی غواړو او په تیره گاونډیان باید د اسلامی ورورگلوی په فضا کی سره وچلیږی او دا خبره زمونږ گاونډ یانو ته هم ډیره ښه څرگنده شوی ځکه زمونږ د شپږو گاونډیو هیوادو له ډلی یوازی تاجکستان دغه شکایتونه کوی چی په پوله کی گډوډی او ستونزی دی او دا ځکه چی نوموړی پولی د هغو ډلگیو په لاس کی دی چی همدا روسیه او تاجکستان یی ملاتړ کوی، وسلی او پیسی ورکوي، او دا هم یوه ثابته خبره ده چی که په ټول هیواد کی یوه معلومه اداره وی نو ټول مسؤلیتونه به هماغی اداری ته متوجه وی او په دی ډول به نورو هیوادونو ته هم اسانه وی چی څه ډول چلند او معامله ورسره وکړی نو په همدی بنا یو ځل بیا تکرار وو چی اسلامی امارت په خپل هیواد کی د نظم او امنیت د ټینگولو ذمه وار دی او په دی هکله زمونږ اقدامات هیڅکله هم گاونډیو هیوادو ته څه خطره نه پیښوی نو د منځنی اسیا هیوادونه دی بالکل دا تشویش نه کوی چی زمونږ له خوا به څه ستونزه ورته پیښه شی بلکي د ترکمنستان او ازبکستان سره مو چی په پولو کی څومره ثبات او استحکام دی همدغسی به د تاجکستان پولی هم ډاډمنی او بی جنجاله شی.

له استاد سیاف سره د زړه خواله

څو ورځی دمخه استاد سیاف پر له پسی له بهرنیو راډیو گانو سره مرکی وکړی ده په دغو مرکو کی د شمال جبهی په استازیتوب خبری وکړی، ښایی زما په څیر ډیرو نورو ته چی د استاد سیاف د شاگردی سابقه لری حیرانوونکی او یو څه بورنوونکی بریښیدلی وی.

زما لپاره خو له دی اړخه هم بورنوونکی وی چی موږ یو وخت پر استاد پوری خپلی ډیری هیلی او ارمانونه تړلی و. موږ د خپلو هیلو غوړیدنه او دردونو درملنه دده د پوهی او تدبیر په کهکشان کی لټوله خو اوس د خپلو ارمانونو له ځوانیمرگی سره سم د استاد سیاف د علمی، سیاسی او مبارزاتی بهیر او پایلو د جنازی پر ماتم گډی اوښکی توییږو.

له دغو مرکو وروسته شریعت غږ راډیو دوه ځله د اوونیمو بجو له خبری سرویس وروسته تبصره کی د استاد سیاف د وینا ځینی ټکی خپاره کړل، ډیرو ته به په زړه پوری وو، ډیرو نورو ته به یی بوختوونکی ښه لرله او ښایی ډیرو یی د بیا بیا خپراوی غوښتنه هم کړی وی خو زما لپاره خواشینوونکی وه په دی معنا چی ما ته یی استاد د خپلی مبارزی، داعیی، شعار، زندانونو او رهبری له هغو ټولو رنگونو او لوړو ژورو سره را په زړه کړ، په دی کی به هغه ورځ هم زما په ذهن کی په ځلیدو شوه چی د پنجشنبی له غرمی وروسته به موږ د امام ابو حنیفه مدرسی څو تنه زدهکوونکی د دهمزنگ زندان ته ورغلو د زندان په دروازه کی به مو پر لاسونو دری څلور ټاپی ولگیدی دا ټاپی به موږ ټوله جمعه مینځلی او موښلی چی د شنبی پر ورځ بی څوک داغونه زموږ په څنگلو ونښی لیدلای. حاجی طره باز به پخپلو ریږدیدلو لاسونو کی د شمالی د انگورو ټوکری رانیولی وه او د دوی مخ ته به بی کیښوده هغه وخت چی نه موږ او نه حاجی طره باز له «نن» نه په دغه کم او کیف خبرو، خبر څه چی تصور مو هم نشو کولای ځکه موږ د سپیڅلتوب تر بریده د استاد د مبارزی حقانیت او درنښت ته غاړه اېښی وه او بیا هغه ورځ چی استاد له زندان نه ژوندی ووت، پښبور ته راغی، او زموږ د تاندو هیلو په خزان ځپلی بڼ د پسرلی زرمی وغوړیدی.

په هماغو لومړیو کی یوه ورځ د استاد کورته چی د ارباب روډ د یوه بلاک په دویم پوړ کی د ډریو کوټو کوړگی و او دی د همدغسی یو ارمان په اسره نوی د افغانستان د آزادی لپاره د اسلامی یو والی مشر ټاکل شوی و د اتحاد اسلامی د لومړی گڼی لپاره دده پیغام ته وراغلی وم د ډوډی وخت و د سترخوان وغوړید د دالو غوری کیښودل شول استاد پر چا غږ کړ هلکه ! یو څو پیاز خو راوړه - هغه په لمن کی شپږ اووه غوټی پیاز رانیولی وو د استاد مخی ته بی پر دسترخوان واچول استاد به د پیاز غوټه راواخیسته پر سوک به یی ووهله او ټوټی به یی د ناستو کسانو مخی ته کیښودی دا د یوه افغانی ټیپ دومره خوندوره او په زړه پوری څرگندتیا وه چی زما په زړه کی بی له استاد سره داخلاص د تاج محل بنیادونه ورول.

په زړه کی می وویل: پر افغانانو اوس خدای رحم وکړ چی داسی لارښود یی ور په برخه کړ چی افغانی ځانگړنی یی د ژوند ممتاز اړخونه تشکیلوی.

ل ږ ډېی وروسته یی په لنډو ټکو کی یو پیغام راولیکه چی تر اوسه ما له ځان سره د هغه اصل ساتلی دی چی راوو تویو اندیوال را سره مل شوا او وبي ویل : استاد سیاف د مرگ له کومی خدای ژوندی را خلاص کړی، مرگ پری تیر شوی، ده ته د دردونو او کړاوونو زور معلوم دی، همدا سری به زموږ اسلامی انقلاب د پرتمین بری پراو ته ورسوی ما ویل

همداسی ده‌الله تعالی د همدی لپاره ژوندی را خلاص کړ چی دغه سرگردانه او تیت پرک کاروان د وروستی منزل لوری ته ورسوی.

کال لا نه و تیر چی استاد زموږ پر ارمانونو د خاوری ایرولو نخره راواخیسته، استاد وروو وروو نه پلکی ژر ژر بدلیده، او له خلکو لیری کیده تر دی چی د پیو د جامع جومات پر هغه پاخه او سیمټی دیوال کی بی ورته له محراب سره جلا دروازه پرانیستله.

خبره د استاد سیاف د هغی وینا وه چی د خپل وراندیز په بنه یی د اسلامی نظام د ټینگښت لپاره د ربانی او مسعود اداری ته وراندی کړی وه.

په هغو ټکو کی له استاد سره هیڅوک د اختلاف گستاخی نشی کولای شریعت غږ راډیو هم چی دوه ځله خپره کړه موخه یی دا نه وه چی گنی استاد ښه نه دی ویلی، بلکی دایی خلکو ته په زړه کول چی استاد یو وخت داسی استاد و.

دا هغه ټکی وو چی د استاد سیاف د مبارزی کرښه گڼل کیده او ده یی د تحقق په لار کی څو کـــــــاله د زندان توری تیږی زغملی او د مرگ په کومـــــی کی یی د هغی انتظار کړی و.

بیا همدا ټکی د جهاد سرلیک شو چی استاد سیاف یی د مخکښو او لارښوونکو پرستیج له ټولو بر او لوړ ناست وو استاد سیاف په هغه وراندیز کی په دی ټینگار کړی چی مجاهدین باید خپلی لیکی له کمونستانو او ملیشو پاکی کړی استاد په دی اړه دومره جدی شوی چی دغه ملیشی یی د عفوی ور هم نه دی بللی، ده د دغو ملیشو او قطعاتو په انحلال ځای په ځای خپل ټینگار ښه په ډاگه څرگند کړی دغه خبری یی په دومره څرگندتیا او صراحت کړی چی د «خو» هیڅ ځای یی نه دی پکی پرېښی.

سړی حیران شی چی استاد سیاف اوس څنگه په خپله هغه خبره او وراندیز پښیمانه شوی ! پښیمانه څه هغه څوک چی اوس دده دریغ او خبره ورســـــره غبرگوی دی ورسره اړم دی او لاپی د جـهـــاد د ټیټو په له منځه وړلو تورنوی.

که دا د جهاد د ټیټو له منځه وړل وی نو تر ټولو روسپی خو د ا د استـــاد دریغ و چی له ملیشو او کمونستانو ښایی خپلی لیکی پاکی او وژغوری، له شریعت سره سم نظام را منځ ته شی د جهاد پر سپیڅلی لمن لگیدلی داغونه سپین کړی شی. د جهاد اهداف او اصالت وسائل شی او د بدنامی له کومی راواستل شی د سولی او امن پیغام خپور او د کمونستانو او پرچمی ائتلاف نښی له منځه یووړل شی.

حکمتیار صاحب چی دده پر وینا له ملیشو او پرچمی ائتلاف سره جنگیده هغه جـهـــاد و، روا او جـــایز و «جنگ جنگ تا ختم گلم جم» خـــو چی طالبان له هماغو ملیشو او ائتلاف سره په مبارزه او ډغره یوخت شول د حکمتیار صاحب په تندی کی یوولس بجی شوی یو دم یی سترگی بدلی کړی چی دی جگړه نه تاییدوی او غندی یی...

استاد سیاف او حکمتیار باید اوس لا خوښ وای چی د دوی غوښتنه نورو ورسره غبرگه کړی او د دوی د هیلو په مخه کی قربانی ورکوی.

استاد سیاف خو هسی ځان په دغی لتی ککړ کړی د هغه څدران کاته پری شوی چی له پکتیا راغلی او د میوند واټ په اپارتمان کی بی کوټه نیولی وه شپه پری خسکو (ورږو) ښه تیره کړی و سهار بی په زړه تنگی د کوټی له کړکی د ښار ننداری ته ودرولی وه، خلک څوک ښکته څوک پورته روان وو گـیـه گوڼه زیاته وه ده پر خلکو چی یوه بله خوا په بیړنی وو د لیـو ټوگ گومـان کړی وو ځکه خوبی اندیوال پوښتلی چی دا خلک څه خدای وهلی چی یوه بله خوا ځغلی کرار یی ورک دی اندیوال یی لنډ ځواب ورکړ، کـاروانه لری پخپلو چارو پسی ځی خو ده له لږ سوچ وروسته ورلنډه کړه : ددی ځینو خو به کارونه وی په هغو پسی به وتلی وی دا نور څه خدای وهلی چی ناکرار دی او یوه بله خوا تښتی.

حکمتیار او مسعود او طالبان خو ورځه یا په واک او اقتدار یا د سولی په ټینگښت سره اړم دی، د استاد سیاف یی څه ؟ د څدران خبره دی ولی بی او ما چه ځان خولی کوي او د نورو په جنگ کی بی ځان ورټیله کړی دی.

استاد سیاف زموږ ټولو استاد دی زه خوبی لا د شاگردانو شاگرد یم آخر په هغه استاد سیاف څه وشول چی په کابل کی یی د مولانا ابوالحسن ندوی د سفر په وخت د هغه د خبرو د ټی البدیهه ژباړی له امله په علمی کړیو کی لا له هماغو لومړیو براولوړ ځای نیولی و.

بیا د حدیثو د یوه داسی عالم په توگه پیژندل کیده چی په علمی درایت یی ډیرو سترو سترو پوهانو هم اعتراف کاوه د ملک فیصل جایزی گټل دده د علمی استعداد یو بل ثبوت دی.

که استاد خپلی خدای ورکړی پوهی ته نه وای شا کړی او ددغو سیاسی ناندریو اوچتو په ځای یی هماغه دعوت او جهاد پوهنتون چلولی وای ښایی هیواد او خلکو ته د ډیر زیات خدمت او خیر مصدر گرځیدلی وای.

نه پوهیږو استاد څرنگه له غیبه خبری کوی چی گنی د طالبانو زوال به له شمال نه پیلیږی له هغه شمال نه چی د همدغو ملیشو او پرچمی ائتلاف زیرنځای گڼل کیږی.

استاد ښایی هیره کړی وی چی الغیب عند الله د افغانستان هغه مشهور منجم خدای بښلی محمد ابراهیم کندهاری به هم چی د نجوم په مرسته کومه وړاندوینه وکړه نو دا ټکی به یی ضرور ورسره وایه «الغیب عند الله» استاد خو منجم هم نه دی نو په دغسی زور او قوت له غیبه خبری کول بیله دی چی دده یو بل کمال وگڼل شی بل څه نشی کیدای.

د یوه استاد په توگه د سیاف صاحب عزت او عظمت دا و چی د جگړو او وینو تویولو پرځای یی د نوی توکم ښوونی او روزنی ته پام اړولی وای د علم او پوهی د رڼا خپراوی ته یی متی نغښتی وای دغه جگړی او ناندری یی نورو ته پرېښی وای.

خدای ښلی مولانا عبدالحق په اکوړه خټک کی دحقانیه دارالعلوم له لاری د ډیرو په زړونو واکمنی چلوله او بی تاجه پاچا گڼل کیده ده په یوه مرکه کی څرگنده کړی چی دغه مدرسه، بی په داسی شرایطو او تش لاس پرانیسته چی میرمنی بی په میچن طالبانو ته وړغاسنی اوړه، کول خو هغه مدرسه دومره ستر دارالعلوم شو چی نن دی د ټولی نړی مسلمانان یکی د علم د تر لاسه کولو تلوسه لری.

استاد سیاف عالم دی پیاوړی عالم، د جبل السراج له سرگروپی او ائتلاف له ویاندی دا ښه نه وه چی په هیواد یا په پښتونخوا کی یی د دعوت او جهاد پوهنتون ډیوه بله ساتلی وای او هغه یی له گل کیدو ژغورلی وای همدا د ده لښکر او پوځ و چی هیچا یی مقابله نشوای کولای او مخه یی نشوای نیولی. له طالبانو سره اختلاف په خپل ځای له رژیمونو سره اختلاف باید د وطن د تباهی کچی ته لوړ نشی موږ په دغو تشو ککړیو او ورو خولو پر طالبانو نیوکه کوو د دوی په خپل اخبار کی یی کوو. زه طالب نه یم ښه په جار وایم د استاد سیاف د شاگردی او آشنایی ماضی او حقیقت نه پټوم او له دی سره د طالبانو پر کړنو او پالیسی نیوکه هم کوم خپله ځانگړی مفکوره او نظریه لرم، موږ دا نه وایو چی استاد دی په کابل کی طالبانو ته تسلامی شوی وای آخر د علم او پوهی غوړونه او خپراوی خو هر ځای کیدای شی.

مرحوم استاد الفت په یو ځای کښلی په شورا کی ځینی وکیلان په دومره لوړه سویه وبناوی کوی چی سری ورته گوری له سر ته یی خولی لویږی، ځینی نور بیا دومره لویدلی او ټیټی وبناوی کوی چی خبری دوی کوی ټیټ موږ گورو. کله نا کله استاد سیاف هم داسی مرغلری وښندی چی خبری دده وی خو ټیټ یی موږ شاگردان گورو.

ای ادیبه او لیکواله!

ملا محمد اصغر «عاکف»



گېله خو له هغه چاکېږي چې مخ وراوړي، او هغه د چا خبره چې کلی بې په نامه وی هغه لې له نورو ښه وی مور هغه ادیبان او لیکوالان وروڼه یادوو چې خدای«ج» ښه ذهن، خوږه ژبه او تېز قلم ورکړی وی او هم ددی وران، ویجاړ مگر قهرمان هیواد بچیان وی، په دی ښه پوهیږو چې که هغوی هر ځای او سیږی خامخا به بې ترنگ ښه خوښ وی، هر څه چې لیکی د خولی خوند به بې وربانده ښه وی، ښه به شعرونه وایی او ښه ډیر به یې اوریدونکی وی.

په ټول ژوند کی باید یو ادیب، شاعر او لیکوال په ښو صفتونو وستایل شی ځکه چې هغوی د یوی ټولنی او هیواد د فرهنگ او ثقافت په خپرونه او بداینه کی لوی لاس لری او کـه له زړه وغواړی، داسی ډیر څه کولای شی چې د خپلو هیوادوالو په گټه بې وی په داسی حال کی چې هغه چاره بیا د نورو له لاسه نه وی پوره، لنډه دا چې څومره ډیر ښه وستایل شی وربانده ورکه نه ده او له پورتنیو ټکیو څخه دی هم څوک داسی مانا نه اخلی چې گواکی لیکونکی کومی یوی نیوکی ته لیواله دی.

بلکی یواځی دومره ویل او پوښتل غواړو چې ایا له نن سبا ښه بله کومه ورځ ده او هغه به کله راځی چې ددی وران ویجاړ هیواد په بیارغاونه کی ټول هیوادوال د خپل کسب او کمال، هنر او مسلک په کار اچولو سره خپل مسؤلیتونه درک او په مخ بې بوزی ؟ تر څو له یوی خوا متعال خدای راضی شی او له بله پلوه مو وران هیواد بیرته جوړ او ټولی چاری بې په مخ ولاړی شی او په تېره بیا د هغی ورځی له رسوایی څخه نجات ومومو دل شی چې د خدای«ج» په وړاندی سور کفنه شهیدان، کونډی او یتیمان په گریوانه کی لاس وراچوی او ورته وایی چې راشه حساب، کتاب سره وکړو ما څه وکړل او تا څه وکړل؟ –او ستر خدای«ج» بې تر منځ قاضی او حکم وی .

نو ای ادیبه، شاعره او لیکواله هیوادواله وروره! ته چې د ملت په قلم او کاغذ کاتب او لیکوال شوی، تاته چې د شهیدانو وینی د قلم سیاهی شوه او تاته چې له مهالو راهیسی د هیواد والو سترگی په کتو کتو درکېږی شوی گوره پام چې خپل وس ونه سپموی ځانته بې ځایه بانی او پلمی مه لټوه کـه له انگریزانو څخه د وطن استقلال او ازادی گټل اسلامی او ملی ضرورت و نو هغه خو مو اتلو نیکونو لاسته راوړی او کـه له برغلگر شوروی اتحاد او د وخت له سری امپراطوری څخه خلاصون د وینو په میثاق او د سرونو په قربانولو متحقق کیده نو هاغه دی له یو نیم ملیون څخه زیات شهیدان مو ورکړل او هیواد مو آزاد شو او کـه نن د هیواد سالمیت او د خاوری تمامیت او دفاع په توره اوټوپک میسر کیږی نو هاغه دی وینی یې چې د اسلام او ملت رښتینو سپاهیانو په ښه میړانه ملا وی ورته تړلی دی او کـه د یو نیم ملیون شهیدانو او د هیواد والو د راز راز قربانیو یواځنی ارمان په هیواد کی د اسلام حاکمیت او محمدی «ص» شریعت نفاذ ونو هغه هم دواړه راغلی دی او کـه د بهرنیو او کورنیو جگړو له امله د وران ویجاړ هیواد له سره بیا جوړول ضرورت و او کـه د کلیو او ښارونو جوړول او شاړو ځمکو سمسورول مهمی چاری دی دا هر څه اسلامی امارت په غاړه اخیستی دی او هاغه دي اړوندی امارتی موسسی او ځواکونه په کار لگیا دی او ممکنی چاری پر مخ روانی دی.

مگر څومره به ښه وای چې زموږ د هیواد هغو ادیبانو، لیکوالانو او شاعرانو چې لا تر اوسه په نورو هیوادونو کی میشت دی یو خـو دا چې د پردیو د پالیسیو ژباړه کوی او بل دا چې خپلو اسلامی او ملی مسؤلیتونو ته بې شا کړی خپل دین او خپل ملت ته د خدمت په جذبه راشی تر څو د اسلامی امارت په هغی ځانگړی پاملرنی او د اطلاعاتو او کلتور وزارت په هلو ځلو چې د هـیواد نورو ادیبانو، لیکوالانو او شاعرانو ته بې چې د کار څومره اسانتیاوی برابری کړی دوی هم د هغوی تر څنگ ودریږی او خپلی علمی او فـرهنگی پانگی په کار واچوی.

قرآني مینه او په هنري گانو کی د هغی تجلا

نړیوال

د خطاطی هنر او د میناتوری ظریفانه فن تر بل هر وخت زیات په اسلامی عصر کی د یادونی وړ تکاملی ځلاندی دوری لری، موږ د خپل هیواد په لرغونی تاریخ او د هنر او صنعت په بیلا بیلو زمینو کی حتی د وداښیو په برجسته برخو، منارونو، طاقونو، گنبدو او داسی نورو کی ویاندی بیلگی لیدلای شو .

لری وخت ته په نه ور گـرځو حـتی دا نن هم چې د خطاطی او میناتوری هنر د وسایلو په وده کی پوره بدلون راغلی دی د خطاطی او میناتوری استاتیکی فن چې تقریباً په زیاتو ساحو کی د یوه او بل متمم دی ډیری غوری نمونی په ټولو بصری او طباعتی نشراتو کی لکه کتابونو، ورځپاڼو جریدو کلیزو او تجارتی پاڼو اعلانونو او داسی نورو کی په پراخه پیمانه هره ورځ تر سترگو تیریږي.

دا ځوان خطاط ښاغلی محمد مسعود رویا وردک د محترم عبدالحکیم زوی دی چې د وردگو ولایت د جغتو ولسوالی اصلی اوسیدونکی دی.

نوموړی زیاتره په اسلامی آثارو پوری مربوطو برخو کی د خطاطی سره خاصه لیوالتیا درلودله او د تحصیل په دوره کی، او بیا راوروسته بې د هیواد د ځینو مجلو لپاره مطالب خطاطی کـول، تر هغی چې د پروفیسور غلام محمد میمنه گی په فرهنگی مرکز کی ورته د استادی شریفانه ویاړ هم ور

طرفه معنا تقدیر شوی دی.

نوموړی ځوان خطاط ځان ډیر زیات بختور او واقعاً مسعود احساسوی چې دا دی د تېرو بوه کال په بې ساری زیار ایستنی، سترړیاوو، بې خوبی او هغه هم د اقتصادی ناوړه شرایطو تر اغیزو لاندی اما په اسلامی عشق او قرآنی توده مینه لوی خدای ورته ددی توفیق ورکړی چې د قرآن شریف د ښکلی خطی نسخی د خطـاطی دینی او ملی کار بې د ډیری په زړه پوری میناتوری په طرحو د کړو ورو خو منظمو کرښو په منځ کی د عراقی نسخ په شیوه او سبک په داسی حال کی چې په دغه اوږده موده کی په ۲٤ ساعتو کی له ۱٤ تر ۱۵ ساعتو پوری په پوره علاقمندی کار کړی د بشپړ ولو مـرحلی ته ورننوتی کړی دی.



الله تعالی دی دغه ځوان

د ځوان خطاط محترم محمد مسعود «رویا وردک» د خطاطی هنری بیلگه

دا دی دلته ددی گلنـ ... یوه نوی راټوکیدلی تانده ځیره معرفی کیږی، هغه ځیره چې په پښتو گوتو، نه ستړی کیدونکی هاند په زړه پوری استاتیکی سلیقه، شریفانه ذوق په لوړ هنری، استعداد په ارزښتمند خلاقیت او په خلص مفهوم په سپیڅلی اسلامی روحیه د قرآن عظیم الشان دغه آسمانی کتاب د مسلمانانو مبارک لارښود او الهی قانون یوه نسخه د ۹-۱۰ میاشتو په شپورځو کی د میناتوری ډیرو ښکلو طرحو په غیږ کی خطاطی کړی.

په برخه شو. ده په اکادمیک ډول زموږ د هیواد د نوموړی انځورگر محمد اسرائیل رویایی د آثارو څخه زده کړه کړی ده او د هغه د هنر د سبک سره خاصه مینه او ذوق لری او خپل استاد بې گڼی.

محترم محمد مسعود وردک د مروجو خطونو له ډولونو څخه د نستعلیق، نسخ، ثلث او شکست خطونو سره زیاته مینه لری او د غیر مروجو یا آرتستیک خطونو په لیکلو ښه بلد دی.

تر اوسه پوری محترم وردک د ډیرو اشخاصو له

په خوانی لا برکت کړی او لا توفیق دی ورکړی تر څو چې د اسلامی هنر او فرهنگ او ملی کلتور په ډگرونو کی غـښی تلپاتی بیلگی په یادگار پریږدی. باور لرم کـه چیرته نوموړی ته ددی د هنری فعالیتونو په ډگر کی، لازمه زمینه مساعده او په هر اړخیز ډول وهڅول شی، بې له شکه به د هیواد ملی او اسلامی فرهنگی گنجینو ته لا زیاته گټوره او نوښتگره شریفانه آثار او شتمنی ورزیاته کړی.

د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال : دکتور عبدالرحمٰن رافت باشا | ژباړن : بشار

19

تباه شی چا په دغه شپه کی زموږ پر خدای تیری کړی دی ؟! هیڅا ځواب ورنکړ.

بیا په کور او د باندی ځایونو کی د هغه په لټه کی شو او له ډیره قهره یې له خولی ځگو نه بادیدل، او د ډارولو او ویرولو خبری یې کولی تر هغه چې هغه یې په کنده کی نسکور بیاموند، او بیا یې هغه ووینځه، په عطرو یې کړ، او بیرته یې پخپل ځای کی کینبود، او ورته یې وویل :

په خدای سوگند، که زه پوه شم چې دا کار چا درسره کړی دی نو هغه ته به سزاورکړم.

کله چې دویمه شپه شوه، زلمیانو بیا مناة له خپل ځای څخه واخیست، او د پخوا په شان بې په هماغه کنده کی وغورځاوه. سپین ږیری چې د هغه لټه وکړه نو دا ځل یې هم په کنده کی چټل بیاموند، بیا یې هغه پورته کړ، ویې وینځه، په عطرو یې کړ، او بیرته یې پخپل ځای کی کینبود

زلمیانو د پخوا په شان بیا وکړل څو چې سپین ږیری په تنگ شو، او له خوبه مخکی مناة ته ورغی، او توره یې په غاړه کی ورځوړنده کړه، او ورته یې وویل : ای مناته! په خدای سوگند زه نه پوهیږم چې څوک درسره داسی کوی، نو که په تاکی څه وی او څه کولای شی نو له خپل ځان څخه شر بچ کړه. او دغه توره می درسره پریښودله.

بیا عمروخپل بستر ته لاړ، او د بت په باب د عواقبو په انتظار کی شو.

کله چې زلمیان پوره شول چې سپین ږیری په خوب کی ډوب پروت دی نو بت ته ورغلل، او توره یې د هغه له غاړی څخه واخیستله، او بیایې له کور څخه بهر ویوړ، او د یوه مړ سپی سره یې په رسی وتاړه، او بیا دواړه بت او سپی یې د بنو سلمه په څاه کی چې هلته چټلی ورتله او په کی غونډیله وغورځاوه.

کله چې سپین ږیري ویښ شو، او بت یې پخپل ځای کی ونه لید نو له کوره ووت، او د هغه په لټه کی شو بیا د ډیري لټی وروسته گوری چې هغه په څاه کی پر مخ نسکور پروت دی او د مړ سپی سره تړل شوی دی او توره نشته، مگر په دغه ځل هغه له څاه څخه ونه ویست، بلکی هماغسی یې پریښود او دغه بیت یې ووایه :

ترجمه : په خدای سوگند، که ته خدای وای نو ته او سپی به د څاه په منځ کی یو ځای نه وای.

بیا ډیر وخت تیر نشو چې د هدایت په لاره برابر او د خدای په دین کی داخل شو.

عمرو بن الجموح د ایمان خوند ولید، او پخپل تیر وخت یې چې په کفر کی و د پښیمانی گوتی یې په غاښ کړلی، نوی دین یې په تن او روح سره ومانه، او خپل ځان اولاد او مال یې د خدای او د هغه د پیغمبر د طاعت په لاره کی وگرځول.

ډیر وخت تیر نشو چې د احد غزا منځ ته راغله، په دغه وخت د عمرو بن الجموح سترگی پر خپلو دریو زامنو چې د خدای دد ښمنانو د جنگ لپاره تیاری نیوه، ولگیدلی، او دری واړه یې ولیدل چې د ځنگل د زمریانو په شان د جنگ میدان ته په وتلو کی دی، او د شهادت او د خدای د رضا د میندلو په لاره کی په ډیر شوق او جذبی سره لیدل کیږی نو د هغو حال او د ریخ د هغه غیرت په خوښ او حرکت راوست، او اراده یې وکړه چې د هغو سره د حضرت پیغمبر «ص» د بیرغ لاندی جهاد ته ولاړ شی مگر زلمیان د پلار د عزم په مخکی مانع وگرځیدل ځکه هغه له یوی خوا ډیر سپین ږیری او له بلی خوا گوډ او لوی خدای معذور گرځولی و.

زامنو پلار ته وویل : ای پلاره! ته خدای معذور کړی یې، نو ته د څه لپاره خپل ځان تکلیف ته ورکړی ؟!

سپین ږیری د هغو په دغی خبره ډیر په قهر شو او د دوی د لاسه د شکایت په غرض رسول الله «ص» ته ورغی او ویی ویل : ای د خدای رسوله! زما دغه زامن غواړی چې ما له دغه خیر څخه منع کړی، دوی زما گوډوالی د خپلو خیرو دلیل نیسی، او په خدای سوگند زه هیله لرمه چې پخپل گوډوالی سره جنت ته ور ننوځم.

رسول الله «ص» د هغه زامنو ته وویل : ترجمه : « هغه پریږدی، ښایی لوی خدای هغه ته شهادت ور په برخه کړی. »زامنو د حضرت پیغمبر «ص» په خبری باور وکړ، او د هغه لاره او مخه یې ازاده پریښوده. بیا کله چې غزا ته د وتلو وخت نږدی شو عمرو بن الجموح د خپلی ښځی سره د بیا نه لیدلو خدای په امانی وکړه بیا مخ په قبله ودرید، او خپل لاسونه یې اسمان ته پورته کړل او ویی ویل : ای خدایه! شهادت را په برخه کړه، او خپل اهل ته می نا امیده مه ستنوه.

بیا عمرو د جهاد په نیت د خپلو دری واړو زامنو او د خپل قوم (بنو سلمه) د ډلو سره روان شو کله چې د جنگ اور ولگید او جنگ تود شو، او خلک د رسول الله «ص» د شا او خوا څخه تیت او پرک شول، پدی وخت کی د دریو زامنو پلار د مجاهدینو په لومړی ډله کی ولیدل شو چې په روغه پښه ټوپونه وهی او وایی : زه د جنت مینه لرم، زه د جنت مینه لرم.

په دغه وخت کی خلا د زوی یې شاته ولاړ و . سپین ږیری او زلمی زوی یې د رسول الله «ص» څخه دفاع کوله تر هغه چې پلار او زوی دواړه د جنگ په میدان کی شهیدان پریوتل، او د پلار او زوی د شهادت په منځکی د څو شیبو فاصله وه. کله چې جنگ ودرید، رسو الله «ص» د شهیدانو په ښخولو شو او خپلو ملگرو ته یې وویل : د خپلو وینو او زخمونو سره یې پریږدی زه پر دوی باندی شاهد یم. بیا یې وویل : هیڅ مسلمان نشته چې هغه د خدای په لاره کی زخمی نشی مگر دا چې هغه به د قیامت په ورځ راشی او وینه به یې بهیږی، رنگ به یې د زعفران په رنگ وی او بوی به یې د مشکو د بوی په شان وی. بیا یې وویل : عمرو بن الجموح د عبدالله بن عمرو سره خښ کړی بیشکه دواړه په دنیا کی سره ښه دوستان او یو د بل سره مینه کونکی و.

خدای دی د عمرو بن الجموح او د هغه له ملگرو څخه چې د احد شهیدان دی راضی شی او د هغوی قبرونه دی روښانه کړی.

پاتي لري

په افغانستان کې د ټولو اقلیتونو حقوق ...

کې د شیعه خلکو او د هندوانو د اقلیتونو په ګډون د نورو اقلیتونو ژوند په بشپړه توګه مصؤن دی او په افغانستان کې ټول قومي او مذهبي اقلیتونه له اسلامي امارت سره په مستقیمه توګه همکاري کوي.

ده په امریکا کې د مسلمانانو ژوند ته په اشاري سره چې له بده مرغه هیڅ راز مذهبي ازادي نلري وویل: په امریکا کې مسلمانان نه شي کولای په اخترونو کې د خپلو رخصتیو ورځي ولمانځي یعنی دا چې په اخترونو کې هیڅ راز رخصتي نلري په داسې حال کې چې د امریکا دولت په خپله په خپل هیواد کې د مسلمانانو او نورو مذهبي اقلیتونو مذهبي ازادي سلبوي څه ډول په افغانستان کې د هغوی د مذهبي د آزادي د سلب په باب خبري کوي په اوسنیو شرایطو کې زموږ په هیواد کې مذهبي اقلیتونه او په تیره بیا زموږ شیعه او هندوان هیواد وال په بشپړه ډاډمنه فضا کې خپل مذهبي مراسم پر ځای کوي او امارتي چارواکي هم وخت په وخت په ویاړ سره د هغوی په مراسمو کې ګډون کوي.

وروسته د شیعه خلکو استازي محترم محمد نواب حیدري او د هندوانو استازي محترم اندرسنګه مجبور په افغانستان کې د خپلو خلکو د بشپړو ازادیو په باب چې له کومې سنونزې پرته ژوند کوي او خپل مذهبي مراسم په ډاډ سره پر ځای کوي خبري وکړي او وی ویل:

د اسلامي امارت له بریالیتوب او پېنګښت مخکې زموږ خلکو د خپلو مذهبي مراسمو د اجرا کولو په باب هیڅ راز آزادي نه درلوده زموږ عبادت ځایونه ویجاړ شوي وه او کورونه مو سوځېدلي وه او زموږ خلک سربیره پر دې چې په خاورو اوویټو لیت پیټ اولړل کیدل د رژیم د ټوپکیانو له خوا له سخت خطر سره مخامخ کیدل.

د شیعه خلکو استازي محترم محمد نواب حیدري د هغو ادعاګانو او تورونو دردولو په ترڅ کې چې د اقلیتونو د ژوند ته په باب د امریکا په کلني رپوټ کې خپاره شوي دي وویل: شیعه خلک نه یوازي دا چې د اسلامي امارت په چوکاټ کې د خپلو مذهبي مراسمو د پر ځای کولو او د بیان پوره ازادي لري بلکې په عملي توګه د اسلامي امارت د هدفونو د دفاع په سنګرونو کې دي موږ په یقیني توګه ویلی شو چې په اسلامي امارت کې د قضاوت معیار یوازي تقوی او پرهېزګاري ده موږ په څه د پاسه دوه سوه اتیا جوماتونو کې له کومې ستونزې پرته د لوی خدای «ج» د عبادتونو په ادا کولو او د مذهبي مراسمو په اجرا کولو بوخت یو هغه ډېر ښه مثال چې کولای شو وړاندي کړو زموږ د هغو لسګونو زرو تنو هیوادوالو له ایران څخه افغانستان ته بیرته راستنیدل دي چې زیاتره یې شیعه ګان دي.

دغه راز د هندوانو یو تن استازي ښاغلي انور سنګه مجبور د دښمنانو تبلیغات په بشپړه توګه دروغ وبلل او وی ویل: موږ همدا نن د شور بازار په درمسال کې خپله یوه مذهبي ورځ له کومې کوچنې ستونزې پرته ولمانځله. موږ په کابل جلال آباد، خوست غزني لشکرګاه او د هیواد په نورو سیمو کې په ارامه اوله تو پیر څخه په خلاصه فضا کې په پوره ډاډ سره ژوند کوو او خپل مذهبي مراسم په ازادانه ډول او د بشپړ مصؤنیت په فضا کې پر ځای کوو.

بنسټ اجراات کیږي چې زیاتره یې د مسلمانانو د دیني اصولو په خلاف دي.

ایا دغه محدودیتونه په امریکا کې د میشتو مسلمانانو اساسي ستونزي او مشکلات نه دي که چیري په امریکا او په نورو ورته هیوادونو کې د اسلام د مقدس دین او د نورو ادیانو پیروان وغواړي خپل دیني او مذهبي مناسک په عام محضر کې په ځای کړي او د بې عدالتیو او محدودیتونو په وړاندي خپلې مذهبي ولولې څرګندي کړي د تروریست په نامه تر ګواښ او څو روني لاندي نیول کیږي.

نړیوال استبکار غواړي په بېلا بېلو نوموټو د ادیانو د پیروانو تر منځ بدبیني پیدا کړي د افغانستان مومن او مسلمان ملت د هغوی په توطیو او د سیمو باندي خبر دي او د هغوی د قضاوتونو په خلاف لاپسې په یو موټي توب سره د اسلامي امارت په شاوخوا راټولیږي او د هغه د لوړو او رغنده هدفونو د ربښتیانیني په لاره کې له پخوا زیات د همت ملاوي تړي.

> **د روسي اتومي اوبتل خپله ددې هیواد د سمندري پوځ لخوا وبشتل شوي دي**
>
> د المان یوې ورځپاڼې د روسيې د داخلي امنیت د سازمان له خولې ولیکل د روسیې د سمندري پوځ د یو مامور په بهیر کې ددغه هیواد یوه جنګي اوبتل د اتومي اوبتل ضد توغندیو دزي وکړي او د کورسک په اتومي اوبتل باندي لګیدلي دي. تراوسه پوري روسیې ادعا کوله چې ددغه هیواد د اتومي اوبتل د ډوبیدو پیښه له یوه بهرني اوبتل سره د ټکر له امله را منځته شوي ده.

په هیواد کې ټول میشته ...

اتفاقي د پیدا کولو په خاطر یوه توطیه وبلله.

د کابل ښار د جامع جوماتونو خطیبانو او واعظانو په خپلو دیني مؤعظو کې د دیني او مذهبي مناسکو او مراسمو په تر سره کولو کې د افغانستان د اسلامي امارت د ګټورو او اغیزمنو اقداماتو یادونه وکړه او وېي ویل: زموږ د هیواد په نافذ اسلامي نظام کې د ټولو ادیانو د پیروانو لپاره د لوی خدای «ج» د حکمونو او اوامرو له اصولو سره سم زیاتي ازادي شته او له همدې امله دي چې په هیواد کې ټول میشته قومونه او ملیتونه د اوسني واکمن اسلامي نظام بشپړ ملاتړ کوي او په غوڅه یې دفاع کوي.

د جوماتونو خطیبانو او واعظانو د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه: امریکا په دې پلمې سره غواړي زموږ د مسلمانو خلکو تر منځ تفرقه او بې اتفاقي پیدا کړي او له دې لارې خپلو ناوړو هدفونو ته ورسیږي په داسې حال کې چې په خپله امریکا کې د دیني مناسکو د اجرا کولو لپاره زیات محدودیتونه شته مسلمانان په ښه او لازمه توګه خپلې دیني مقدسي ورځې نشي نمانځلی په حقوقي او مدني مسئلو کې د مسلمانانو لپاره کوم قانون نشته.

د شخصي احوال او د نکاح او طلاق د مسألو په برخه کې د امریکا د قوانینو پر

از اظهارات نطاق ...

در کنار امارت اسلامي همیشه قرار داشته و پشتیباني خویشرا از امارت اسلامي اعلام داشته اند.

وزارت امور خارجه ایالات متحده امریکا بي خبر از احوال و حالات داخلي امارت اسلامي افغانستان از فاصله هاي دور و خارج از انصاف و حقیقت امارت اسلامي را متهم به این و آن نموده که این اتهامات دلالت به بي خبري آن کشور نموده موقف و پرستیژ ایالات متحده امریکا راد ر سطح جامعه بین المللي خدشه دار خواهد نمود.

وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان از وزارت خارجه ایالات متحده امریکا متوقعست تا منبعد از پخش اکاذیب علیه امارت اسلامي و ملت جنګ زده ما که هر آن در اثر خشك سالي و تعزیرات خصمانه متحمل خسارات و دشواري ها اند بیشتر از این به رنج و الام مردم افغانستان نیفزایند و از تبلیغات سو و زهراګین علیه امارت اسلامي افغانستان خود داري نمایند.

در ولایت سمنګان ...

ریاست معارف ولایت سمنګان ارسال ګردیده است.

وي افزود: پنجاه و پنج قلم مواد درسي و کتب دیګر از سوي موسسه سویدن به ریاست معارف ولایت سمنګان مساعدت ګردیده است.

وي در ادامه سخنان خویش ګفت: ریاست معارف ولایت سمنګان سعي دارد در همکاري مردم معارف دوست آنولایت به اعمار و باز سازي مدارس اقدام نمایند. و زمینه هاي بهتر آموزش و پرورش اطفال و نوجوانان کشور را به زیور علم و معرفت اسلامي فراهم سازد.

از طرف جمعیت عالي ...

جمعیت عالي افغاني سره میاشت مواد امدادي توزیع ګردید.

جمعیت عالي افغاني سره میاشت به سلسله کمکهاي بشر دوستانه خویش به ارزش چهار صدو یازده ملیون و ششصد هزار افغاني مواد کمکي و لباس را که شامل ګندم، روغن، دالنخود، برنج و لباس مي باشد روز پنجشنبه براي پنجصد و هشتاد و هشت فامیل بي بضاعت در نواحي مختلف شهر کابل توزیع نمود.

درولایت نیمروز رادیو ...

در محفلیکه بدین مناسبت در شهر غور غوري مرکز ولایت نیمروز تدویر یافته بود محترم ملا محمد رسول مجاهد والي ولایت نیمروز، روسا ادارات، علما و موسفیدان آنولایت اشتراك ورزیده بودند در آغاز محفل محترم والي ولایت نیمروز از کار و زحمتکشي پرسونل تخنیکي وزارت اطلاعات و کلتور در مورد انتقال دستګاه متذکره از ولسوالي زرنج ولایت نیمروز به شهر غور غوري مرکز آنولایت، نصب و منتاژ آن ابراز خرسندي نمود.

رادیو صداي شریعت ولایت نیمروز قبلاً در ولسوالي زرنج نشرات مي نمود و اکنون به شهر غور غوري مرکز ولایت نیمروز انتقال ګردید.

مبارزه مسلحانه علیه ...

رهبران جنبش حماس ضمن اظهار این مطلب دیروز در باریکه غزه تاکید ورزید که هرګونه توافقي را که در آن حاکمیت قسمتي از بیت المقدس به رژیم صهیونیستي واګذار شده باشد رد مینماید.

شکست شرافګنان ...

تاکید ورزیدند.

در اجتماع وسیعي که در مسجد جامع شهر تالقان به اشتراك هزاران تن از شهریان آنولایت اعم از علما، روحانیون، بزرګان، موسفیدان متنفذین و اهالي مناطق مربوط آن شهر تدویر یافته بود قبل از اداي نماز جمعه محترم مولوي نعمت الله شجاع، محترم مولوي حیات الله و محترم قاري احمد الله رئیس عمومي استخبارات بالترتیب در رابطه به اقدامات نیك و سازنده امارت اسلامي و برنامه هاي عام المنفعه آن به تفصیل صحبت نموده پرده از مظالم و جنایات مخالفین و باداران شان برداشته مردم را به وحدت و یکپارچګي کامل شان در برابر توطئه هاي شوم و پلید این عناصر فروخته شده دعوت نمودند.

بالمقابل چند تن از بزرګان وموسفیدان طي سخنراني هاي شان از فتح ولایت تخار که توسط مجاهدین قهرمان و دلیر اردوي امارت اسلامي صورت ګرفته استقبال نموده ګفتند: ما شهریان شهر تالقان قبل ازفتح این شهر به اثر فشار هاي روحي و مظالم دشمنان خاك و وطن نمیتوانستیم بکار و پیکار خویش بخاطر پیدا نمودن یك لقمه نان و رزق حلال کار نمائیم و همواره دست بدرګاه رب العزت بلند نموده شکست آنها و انفاذ نظام عدل الهي را آرزو مینمودیم که لله الحمد به یاري الله پاك به مقصود خویش رسیدیم دشمن به شکست قطعي مواجه ګردید و تحت لواي نظام اسلامي امنیت مطمئن در منطقه ما حکمفرما شد.

ایشان ضمن ابراز امتنان از امارت اسلامي خویش به نمایندګي از دیګران تعهد سپردند از وجب وجب خاك مقدس خویش دفاع نموده در پهلوي سایر برادران مجاهد خود آماده هرګونه دفع و طرد دسایس شوم و پلید دشمنان داخلي و خارجي خاك مقدس مان میباشیم.

دریو خیریه موسسو ...

د کورنیو او بهرنیو خیریه موسسو د ثبت اوراجستر د کمیسیون غونډه پرون د پلان وزارت د معین او کفیل محترم محمد موسی هوتک په مشري جوړه شوه. په دې غونډه کې د یو شمیر کورنیو او بهرنیو غیر حکومتي خیریه موسسو د کار او فعالیت سندونه وڅېړل شول او په نتیجه کې یې د عامه سوکالی اداري د سویدن د ماشومانو د ساتنې او د روغتیا مرستي او پرمختیا په نامه موسسو ته په افغانستان کې د کار او فعالیت اجازه ورکړل شوه. د غونډې په پای کې ددغو موسسو له چارواکو څخه وغوښتل شول چې د افغانستان له خلکو سره د مرستي په لاره کې د ښو او ګټورو فعالیتونو په مقصد له هیڅ راز همکاریو څخه ډډه ونه کړي.

تعداد زیادي از معتادین هیروئین ...

مربوطات شهر کابل طي ششماه اول امسال تعداد پنجاه شش تن ازمعتادین هیروئین و سي و شش نفر معتادین چرس دستګیر و تحت تداوي قرار داده شدند اسامي محمد یوسف فرزند محمد آصف یکتن ازین معتادین پس از صحت یابي طي صحبتي با خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر چنین ابراز نمود:

قبلاً نمي فهمیدم چه کار کنم و چه ترتیب زنده ګي خود را پیش ببرم شب و روز را در خرابه ها سپري مي نمودم که به اثر توجه و مواظبت دایمي امارت اسلامي افغانستان و بخصوص موظفین محترم وزارت امر بالمعروف و نهي عن المنکر طي یکماه تحت تداوي صحي قرار ګرفتم اکنون الحمد لله صحتم بکلي بهتر شده کماقي السابق میتوانم کار نمایم و مصدر خدمت بوطن و فامیل خویش ګردم.

وي افزود: طي مدت که تحت نظارت موظفین محترم امر بالمعروف و نهي عن المنکر بودم بعد از مدت چندي که تحت تداوي قرارګرفتم درك کردم که در یك مدرسه قرار دارم که در آن علوم دیني توسط علماي کرام تدریس میګردید که خوشبختانه به اثر سعي و تلاش آنها اکنون علاوه بر اینکه از صحت کامل برخوردار ګردیده ام همه احکام الهي را آموختم و از آن مستفید ګردیدم.

د چك ولسوالي د برېښنا ...

دستګاه د سوچپوردونو د ځانګې مسؤل محترم غلام فاروق د خپل کارپه ځانګه کې زمونږ له خبریال سره د مرکې په ترڅ کې څرګند او زیاته یې کړه.

په دې فابریکه کې درې توربینونه نصب او منتاژ شوي چې هر یو یې د ۱۲۰۰ کیلو واټه برېښنا تولیدی ظرفیت لري او په مجموع کې ددې فابریکې تولیدی ظرفیت ۳٦۰۰ کیلو واټه ته رسیږي په اوس وخت کې ددې فابریکې یو توربین د لږ څه تخنیکي عوارضو له کبله د استفادې وړ نه دی خو دوه نور توربینونه یې عملاً تولیدی فعالیت ته اماده دي.

ده زیاته کړه: د چک ولسوالي د برېښنا ا نور ژي ـــــ پخوا د هوایي کیبلونو په واسطه کابل ښار ته انتقالیده خو د تیرو جنګ جګړو په ترڅ کې دغه شبکه تقریباً په بشپړه توګه له منځه تللې او په دې نږدې وختونو کې یې د بیا رغونې چارې ــــمکنې نه بریښي ددې دستګاه له تولیدی انرژۍ نه د چک ولسوالي د تنویر په برخه کې استفاده کوو تر اوسه پوري مو د چک ولسوالي په بیلا بیلو سیمو کې په مختلفو ظرفیتونو سره لس ترانسفارمرونه نصب او منتاژ کړي او په دې توګه ددې ولسوالي زیاتره اوسیدونکي د

بریښنا له انرژۍ نه برخمن شوي دي.

دی زیاتوي: سږ کال د اوبو د کموالي له امله دغه دستګاه د ثور د میاشتې له لومړۍ نیټې را په دیخوا تولیدی فعالیت نه لري البته د اوبو په را پیدا کیدو سره به بیا عملاً به فعالیت پیل وکړي په د ی دستګاه کې ۱۱ تنه تکړه او مسلکي کارکوونکي په کار بوخت دي. د یادونې وړ ده چې د مصرف کوونکو لپاره د فی کیلو واټ برېښنا محصول ۷۰۰ افغانۍ ټاکل شوي دي. ددې فابریکې د اوبو بند د غرب په استقامت تقریباً ٤،٥ کیلو متره لرې واټن کې موقعیت لري او اوبه د یوه کانال په وسیله د فابریکې د سرکوب ساحې ته رارسیږي ددې دستګاه د سرکوب ارتفاع ۲۲،٥ متره ده. د یادونې وړ ده چې د چک ولسوالي روغتون ته هم له همدې دستګاه نه د ټیټ ولتاژ برېښنا تامینیږي.

سید یوسف

په مسکو کې: د یوې چاودنې له امله ١٤ تنه ټپیان شول

نړیوالي خبري منابع - باختر

د روسیې د پولیسو د خبر له مخې ددغه هیواد په پایتخت کې د یوې چاودنې له امله څوارلس تنه ټپیان شول.

د پولیسو د رپوټ له مخې یوه ناپیژندل شوی سړی په یوې ډلې بدنامو ښځو باندي یو بم وغورځاوه اوله سیمې څخه وتښتید.

تر اوسه پوري ددغې پیښې د عامل د نیولو لپاره لټون کومه نتیجه نه ده ورکړې.

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Dawlati Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150